۱۳۹۷ له معارفه د ملاتړ کال
سرمایه گزاری در معارف، سرمایه گزاری بر آیندهٔ کشور است

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۴۳ ماه عقرب سال ۱۳۹۷

# معارف

اوونيزه

هفته نامه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنيزه خپرونه

سرمقاله:

## د آزموينې لپاره بايد زده کړه وکړو

يو بل تعليمي کال هم د تيريدو په حاَل کې دی. بياهم بايد يوه بله آزموينه تيره کړوترڅو وګورو چې په تيرو څلورنيمو مياشتو کې مو کومې برياوې درلودې؟ آيا هغه موخې ته چې د کال په پيل کې مو ځانته ټاکلې وه رسيدلې يو او که نه؟ آيا روان کال چې اوس يې په پايله کې يو ګټور تمام شوی دی او که مو خپل وخت هسې عبس تير کړی دی؟ دې ټولو پوښتنو ته به موهغه وخت ځواب پيدا کړی وي چې د آزموينې څخه وروسته خپله اطلاعنامه تر لاسه کړو او وګورو چې آيا په ريښتيا هم زموږ زحمت پر ځای وو او که نه؟ که واقعيت ته ځير شو پرته له شکه چې آزموينه به مود زحمت او بريا را په ګوته کړي؛ خو بايد دې ټکي ته په جدي توګه پام وکړو چې موږ بايد د آزموينې لپاره زده کړه ونه کړو اونبايد په دې هڅه کې و اوسو چې د شته ټولګي څخه پورته ټولګي ته بريالي شو، موږ بايد هر هغه څه ترسره کړو چې په راتلونکي کې مو خپل ځان او هيواد ته په ګټه تمام شي. او هغه يواځې په ريښتيني توګه د درس او زده کړې لار ده. زده کړه بايد د زده کړې لپاره وکړو نه د آزموينې لپاره. ګرانو زده کوونکو! دا خبره ډيره مشهوره ده چې وايي وخت د طلا ...

۲مخ

## له ښوونځيو پاتې ماشومانو د جذب لپاره د ۱۲ ميليونه ډالرو مرستې ژمنه وشوه



پوهنه منتظره نه شي پاتې کېدلای (ECW) بنسټ وايي، چې ډېر ژر به د افغانستان پوهنې وزارت سره ۱۲ ميليونه ډالره مرسته وکړي. يادې پيسې له ښوونځيو پاتې ماشومانو د جذب لپاره لګول کيږي.

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکتر محمد ميرويس بلخي، چې د پوهنې لپاره د نړيوال مشارکت په ناسته کې د ګډون په موخه امريکا ته تللی وو د پورته ياد شوي بنسټ له چارواکو سره په ليدنه کې، له ښوونځيو پاتې ماشومانو د حالت په اړه مالومات ورکړل او دا حالت يې خواشينوونکی وباله. د پوهنې وزارت سرپرست وويل: په داسې حاَل کې، چې يو افغان هم کولای شي د خپل هيواد په پراختيا کې رول ادا کړي، د ۳،۷ ميليونو ماشومانو له ښوونځي بهر پاتې کېدل، په پراختيايي چارو کې د همدغومره کسانو د نه شاملېدو په مانا دي.

د پوهنې وزارت سرپرست وويل، نا امني، بې وزلي، کلتور، وچکالي، سېلابونه، مهاجرتونه، هيواد ته د کډوالو راستنېدل او داسې نور هغه اساسي عوامل دي، چې ياد ماشومان يې له ښوونځي بهر ساتلي دي. نوموړي وويل، چې ددې ماشومانو ستره برخه نجونې جوړوي، چې د ټولنې نيمايي برخه ده او له...

۲مخ

## افتتاح تعمير دو باب مکتب در ولايت باميان



تعمير های جديد ليسه مرکز پنجاب و ليسه مهر ولسوالی پنجاب ولايت باميان با حضور داشت دکتور مصطفی مستور وزير اقتصاد، محمد طاهر زهير والی باميان و وينی کومار سفير هند افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد.

محمد طاهر زهير والی باميان از افتتاح تعمير های اين مکاتب اظهار خرسندی نمود و از بهر تمويل بودجه پروژه های مذکور از کشور دوست هندوستان تشکری کرد. والی باميان همچنان از معلمان و شاگردان خواست تا در حفظ و نگهداشت اين تعمير ها تلاش های جدی نمايند.

وينی کومار سفير هند در کابل از صدها پروژه عمرانی تکميل شده و تحت کار اين کشور در امر بازسازی افغانستان يادآوری نموده و اطمينان داد که در اين راستا به همکاری های خويش ادامه خواهد داد.

آقای کومار همچنان تعهد کرد که اتاق کمپيوتر لب ليسه ذکور پنجاب را نيز تجهيز خواهد کرد.

قابل ياد آوريست که تعمير ليسه مرکز پنجاب با هزينه ۲۵،۳ ميليون افغانی و تعمير ليسه مهر با هزينه ۱۳،۲ ميليون افغانی از سوی کشور دوست هندوستان اعمار گرديده که با افتتاح آن زمينه سالم آموزشی برای صدها تن از شاگردان اين ولسوالی مهيا گرديده است.

## پکتيا کې پنځه ښوونځي بيا رغول کيږي



د پکتيا ولايت د مرکز ګرديز په ګډون په ځمکنيو، احمد آباد او سيد کرم ولسواليو کې د پنځو ښوونځيو د ترميم او بيا رغونې چارې پيل شوې. په يادو ښوونځيو کې له احمد آباد څخه د مالي خېلو نجونو ښوونځی، په مرکز کې د خواجه حسن او حليم کلا، په ځمکنيو کې د سيمين اکبري او په سيدکرم ولسوالۍ کې د خنخيلو ښوونځی شامل دي.

د پکتيا د پوهنې رئيس استاد کوچی ځاځی وايي، چې ياد ښوونځي د درې ميليونو افغانيو په ارزښت بيارغول کېږي او هڅې يې دادي، چې ددې ولايت ټولو زده کوونکو ته خوندي او منظم تدريسي چاپېريال رامنځ ته کړي.

نوموړی زياتوي، چې د پکتيا پوهنې رياست په دې ولايت کې د پوهنې د متوازنې ودې او پياوړتيا په موخه جدي هلې ځلې کوي او ډاډ ورکوي، چې د يادو ښوونځيو تر څنګ به نور ښوونځي هم ترميم او بياورغوي. د يادولو وړ ده، چې تر دې وړاندې هم په ياد ولايت کې د يو شمېر ښوونځيو ودانۍ بيارغول شوي دي.

## افغانستان له نړيوالې پوهنيزې حکومتولۍ اغيزناکه ګټه اخلي



## مدال های عالی دولتی به چهار تن از معلمين مکاتب تفويض گرديد



## فعاليت ۱۳۰ مکتب خصوصی مورد ارزيابی قرار گرفت



## افتتاح کمپيوتر لب در ليسه خال محمد شهيد

اتاق کمپيوتر ليسه خال محمد شهيد مربوط مرکز ولايت کاپيسا طی يک مراسم افتتاح و به بهره برداری سپرده شد. اين کمپيوتر لب از سوی موسسه بين المللی پاملرنه بخاطر آموزش عملی مضمون کمپيوتر ساخته شده است. کمپيوتر لب متذکره دارای ۸ پايه کمپيوتر ليتاپ و مجهز با سيستم برقی آفتابی (سولر) می باشد که با کمک مالی ۶۱۹ هزار افغانی موسسه ياد شده تهيه و فعال گرديده است.

عبدالعليم عيار رئيس معارف اين ولايت ايجاد صنف کمپيوتر را در ليسه عالی خال محمد شهيد يک گام ارزنده و مهم عنوان نموده افزود: "شاگردان اين ليسه تاکنون به نسبت نبود کورس کمپيوتر از آموزش عملی کمپيوتر محروم مانده و به شدت نيازمند فراگيری فن استفاده از کمپيوتر و علوم عصری معاصر بودند که با افتتاح اين صنف مشکل شاگردان از اين ناحيه مرفوع خواهد گرديد." وی از بابت ايجاد اين صنف از مسؤلين موسسه پاملرنه تشکری نموده خواهان گسترش اين صنف ها به مکاتب ديگر اين ولايت شد.

همچنان رئيس معارف کاپيسا از معلمين و شاگردان خواست تا از اين فرصت و امکانات به دست آمده استفاده اعظمی نموده و با تمام قوت از وسايل و تجهيزات تهيه شده حفاظت و نگهداری نمايند.

سرمقاله:

## د آزموینې لپاره باید ...

حیثیت لري خو که ځیر شو د وخت ارزښت د طلا څخه هم اوچت دی طلا یو قیمت لري خو د وخت قیمت هیڅکله څوك نشي ټاکلی، له دې خبرې مو موخه دا ده چې شاید خپل قیمتی وخت مو بې ځایه تیر کړی وي؛ خو ښه خبره دا ده چې له تیر وخت څخه باید عبرت واخیستل شي هغه ګړۍ چې اوس تاسو په کې اوسیږئ ښایي په ډیر ستر قیمت هم وا نشی اخیستلای؛ نو کله چې په دې ټکي پوه شوی چې وخت په قیمت نه اخیستل کیږي نو دې پایلې ته رسیږو چې وخت ډیر د ارزښت وړ شی دی.

راځی یو ځل بیا خپل هوډ تازه کړو د خپل ځان او هیواد د راتلونکي لپاره شپه او ورځ د علم او پوهې د ترلاسه کولو لپاره هڅه وکړو. هیواد مو تیرو څو کلونو نا خوالو له هر پلوه کمزوری کړی دی او دا کمزورتیا یواځې او یواځې ستاسو ځوانانو په مټ او هغې پوهې او علم مو چې ترلاسه کړی دی ختمیږي او ډیر ژر به د پرمختګ او سوکالۍ لوړو موخو ته ورسیږئ.

ځان ته مو هدف وټاکی، بی مسوولیته کیږی مه، له ځان سره دا پریکړه وکړئ چې د خلکو ډیر ستر درد په تاسو پورې اړه لري او تاسو یاست چې دا درد د خلکو له اوږو لرې کولی شي.

بله اساسي خبره د زده کوونکو د ښې زده کړې اوسالمې روزنې په برخه کې د ښوونکو او درنو کورنیو فعاله ونډه اخیستنه ده ښوونکي باید تر هر وخت زیات دې ټکي ته پام وکړي چې د زده کوونکو په زده کړه کې د پام وړ بدلون رامنځته شي او زده کوونکي وکولای شي چې د ثانوي دورې تر فارغیدو وروسته د کانکور د آزموینې له بهیر څخه په بریالیتوب ووځي او خپله د خوښې پوهنځي ته لار پیدا کړي چې پرته لکه شکه په دې لاره کې د کورنیو ونډه هم د پام وړ ده کورنۍ هم باید په خپل وخت له خپلو اولادونو خبر واخلي له ستونزو او ننګونو څخه یې ځان خبر کړي د ښوونځي له اداري او ښوونکو سره یې نیغه اړیکه وساتي ځکه د زده کوونکو په بریالیتوب کې د کورنۍ ونډه اخیستنه د بریالیتوب ستر لامل دی د پوهنې وزارت نوې رهبري د پوهنیز نظام د پیاوړتیا په ډګر کې تر بل هر وخت خپلې هڅې زیاتې کړې دي او د هیواد بچیانو ته د ښه او متوازن معارف په وړاندې کولو کې خپلو کړو خبرو او وعدو ته ژمن دی.

## لوګر کې د نجونو زده کوونکو ترمنځ د سیرت النبي سیالۍ جوړه شوه

د لوګر مرکز پل علم اړوند د نجونو د ۵ لیسو زده کوونکو ترمنځ د سیرت النبي (ص) علمي سیالۍ جوړه شو .یاده سیالۍ د لوګر د پوهنې ریاست د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو وجهي صندوق یا یونیسف په مالي مرسته جوړه شوې ده. په دې سیالۍ کې د شهیدې سعدیې، بي بي آمنې، بي بي فاطمې، کمیدان او جویک ښوونځیو ۳۰ تنه زده کوونکې برخه لري.په یادې سیالۍ کې له زده کوونکو څخه په لیکلې بڼه ازموینه واخېستل شوه، چې ټولې پوښتنې یې د حضرت محمد (ص) د ژوند او سیرت په هکله وې.

کلیوال زیاتوي، چې د سیالۍ له ګډونوالو څخه ۵ وتلیو زده کوونکو ته به لوړې جایزې او پاتې ۲۵ نورو ته ډالۍ په پام کې نیول شوې دي .

د لومړي مخ پاتې

## له ښوونځیو پاتې...

وړتیاو یې کار اخیستنه حیاتي ارزښت لري.

د« پوهنه منتظره نه شي پاتې کېدلای »بنسټ مشرې یاسمین شریف وویل، چې بنسټ یې ژمن دی ددې ماشومانو د جذب په موخه په راتلونکې میاشت کې ۱۲ میلیونه ډالره مرسته اعلان کړي.

نوموړې ددې مرستو د دوام په اړه د پوهنې وزارت د سرپرست وړاندیز ومانه او ټینګار یې وکړ، چې دا مرستې به دوام مومي او کچه به یې هم تر ۵۰ میلیونو پورې رسیږي.

پوهنې وزارت د روان کال له پیله له بېلابېلو کورنیو او بهرنیو امکاناتو د کار اخیستنې پرمټ پراخ کمپاین پیل کړی، چې یاد ماشومان ښوونځیو کې شامل کړي.

## دکتر محمد میرویس بلخی با مسؤل مدارس اناثیه الفلاح دیدار نمود

سر پرست وزارت معارف دکتر محمد میرویس بلخی با استاد مطیع الله صافی مسئول و جمعی از اساتید مدارس اناثیه الفلاح دیدار نمود.

مدارس اناثیه الفلاح نزدیک به ۹ هزار شاگرد داشته که ۶ هزار خانم در رشته های مختلف علوم قرآنی از این مدرسه فارغ شده اند. مدرسه متذکره در کنار آموزش، دادخواهی های اجتماعی در عرصه های مختلف با همکاری وزارت معارف در سطح ولایت کابل فعالیت دارد.

آقای مطیع الله صافی مسئول مدارس اناثیه الفلاح از مساعد ساختن زمینه کار به بانوان در این وزارت اظهار خرسندی نموده گفت: ما در کنار آموزش بانوان در این مدارس به دنبال بیشتر شدن نقش خانم ها در اجتماع هستیم.

دکتر محمد میرویس بلخی ضمن قدردانی از فعالیت های این مدارس از استخدام پنجاه در صدی اجباری معلمین زن، در معارف افغانستان خبر داده گفت: "مکاتب و مدارس افغانستان به مثابه دو چشم معارف در



کشور است و نباید بین این دو تفاوت قایل شد، این مدارس و مکاتب میتواند زمینه ساز رشد و بالندگی فرزندان این وطن شده و نقش زنان در این راستا حتمی و الزامی است.

وزارت معارف افغانستان در استراتیژی آینده خود نقش زنان را در دو بخش، یکی سطح رهبری و دوم تعلیم، آموزش و پروش اختصاص داده است. بست های ویژه معاونین روسای معارف در سطح ولایات برای زنان، اختصاصی شدن پست ریاست های تربیه معلم به زنان و جذب معلمین زن در سراسر افغانستان نشانه های بارز این تعهد نسبت به زنان در این کشور بوده و باور رهبری وزارت معارف این است که موقف و جایگاه زن در فرهنگ ملی و افغانی باید تقویت شود.

## دکتر محمد میرویس بلخی از کارگاه نقاشی متعلمین شهر کابل دیدار نمود

دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف از کارگاه نقاشی شاگردان اناث مکاتب شهر کابل که در لیسه عایشه درانی برگزار شده بود دیدن نمود.

کارگاه آموزشی نقاشی پنسلی، رنگه و خیال پردازی هنری که در میان شاگردان اناث شهر کابل برگزار شده بود از سوی سرپرست وزارت معارف دکتر بلخی مورد تشویق قرار گرفت. این شاگردان نقاش، بعد از چندین



سال آموزش در این عرصه قادر به رسامی های مختلف با سبک های جدید و کلاسیک هستند. با ایجاد این کارگاه ها میان شاگردان ظرفیت این نقاشان همه روزه رو به بهبود است.

دکتر محمد میرویس بلخی با اشاره به ارزش کار های هنری این شاگردان تاکید نمود که اساتید موظف باید در قسمت مهیا سازی فرصت های جدید مثل نقاشی رنگه های آبی، روغنی و ترسیم مودل های مختلف برای این دانشجویان جهد نمایند.

رهبری وزارت معارف از اساتید و همکاران برگزار کننده این کارگاه امتنان نموده و وعده سپرد تا برای تشویق این شاگردان نقاش، فرصت های خوبی را مهیا سازد، تا باشد نقاشی های این شاگردان روزی در نمایشگاه های بین المللی نماد از افتخار ملی افغانستان بوده و جوایز معتبری را کسب نمایند.

## میدان وردګو کې د ساینسي مضامینو ښوونکي روزل کېږي

د میدان وردګو ولایت اړوند د ساینسي مضامینو ۷۶ تنو ښوونکو ته ۹ ورځنی علمي سیمینار پیل شو .دغه سیمینار چې د پوهنې وزارت د ساینس مرکز د متخصصینو لخوا پرمخ بیول کېږي د یادو ښوونکو د مسلکي ظرفیت لوړونې په برخه کې یو مهم ګام ګڼل کیږي.

د دغو ښوونکو له ډلې ۳۸ تنه د کیمیا او بیولوژي او ۳۸ نور د ریاضي او فزیک له څانګو فارغ دي، چې په بېلابېلو علمي برخو کې به د یادو متخصصینو له لوري عملي روزنه ورکړل شي .

ښاغلي منصور د سیمینار ګډونوالو ښوونکو ته لارښوونه وکړه، چې د خپلو تحصیلي څانګو اړوندې ستونزې مو له یادو متخصصینو سره شریکې او د هغوی په همکارۍ حل کړئ. هغه له



ښوونکو دغه راز وغوښتل، چې ورکشاپ کې یادېدونکي مسایل په سمه توګه زده کړي او په تدریسي بهیر کې دې عملي ګټه ترې واخلي.

پوهنې وزارت په پام کې لري، چې د ساینسي مضامینو د ښوونکو د ظرفیتونو لوړولو په موخه ورته ورکشاپونه د هېواد په ګڼو ولایتونو کې د مسلکي او باتجربه روزونکو پرمټ عملي او له دې لارې د پوهنې کیفیت لوړېدو ته زمینه برابره کړي.

## ځوانی سره شهرت

ځـوانی سـره شـهرت د ننګ او نـام مـزه کـوي
تـر پـه لار د قـوم پـه وینـو رنـګ مـزه کـوي
یـا ژونـد د خپلـواکی شـه دی یـا مـرګ د شرافت
میـدان کـې د سـرباز د تـوري شرنـګ مـزه کـوي
که ژوند ابدي غواړئ د خپل قوم په مخ کې مړه شئ
بیــرغ د شهــیدانو رنګارنــګ مــزه کــوي
ځوانان شـایي په توره چې د ننګ توره په ملا کي
د پیغلــو پــه ســینو لاچـــي لونـګ مـزه کـوي
چې واک یې د پـردو وي که قبا یـې وي د زرو
د هغــه نــه زوړ کــند د یــو ملنـګ مـزه کـوي
د ځان غوښې کړه ویلې قـوم وبښ کـړه ملنګ جانه
دا سـتا غوښـې وریتـې لکـه پتنـګ مـزه کـوي

ارسالی: عزیز

## غزل

ای وای بــر اســیری کــز یــاد رفتــه باشــد
در دام مانــــده باشــد صـــیاد رفتــه باشــد
آه از دمــــی کــــه تنهــــا، بــــا داغ او چـــو لالــــه
در خـــون نشســـته باشـــم چـــون بـــاد رفتــه باشــد
امشـــب صـــدای تیشــــه از بیســـتون نیامـــد
شـــاید بـــه خـــواب شــیرین، فرهـــاد رفتـــه باشـــد
خـــونش بـــه تیـــغ حســـرت یـــا رب حـــلال بـــادا
صـــیدی کـــه از کمنـــدت آزاد رفتـــه باشـــد
از آه دردنـــــاکی ســــــازم خبـــــر دلـــــت را
وقتـــی کــه کــوه صــبرم بــر بـــاد رفتــه باشــد
رحـــم اســـت بـــر اســـیری کـــز گـــرد دام زلفـــت؟
بـــا صـــد امیـــدواری ناشـــاد رفتـــه باشـــد
شـــادم کـــه از رقیبـــان دامـــن کشـــان گذشـــتی
گـــو مشـــت خـــاک مـــا هـــم، بـــر بـــاد رفتـــه باشـــد
پرشـــور از "حـــزین" اســـت امروزکـــوه و صـــحرا
مجنـــون گذشـــته باشـــد فرهـــاد رفتـــه باشـــد

ارسالی: نجیبه

## ترکومه؟

بـې بازخواسـت او بـې پرسـان بـه یـم تـر کومـه؟
سـر سـرتور څیـری ګـریوان بـه یـم تـر کومـه؟
پـه نـارو مـې سـتونی وچ شـو څـوک یـې نـآوري
د کاڼـه بـــادار دهقـــان بــه یــم تـــر کومـه؟
زمـا مـخ د بـل څپیـړې بـه تــر څــو وي؟
پـه سلـګو او پـه ځـان جـان بـه یـم تـر کومـه؟
د وطـن خـدمت دپـاره وزګـار نـه شـوم
خدمتـګار د هـر یـو خـان بـه یـم تـــر کومـه؟
پـــه کـــرلو او ریبـــلو یـــې پـــوهیږم
نـالایق د دسـترخوان بـــه یـــم تـــر کومـه؟
پـه قیـامت کـې بـه د ډیـرو ګریـوان نیسـم
خوف نه ګونګ زه ( ملنګ جان) بـه یـم تر کومـه؟

رالیږونکی: دنیا تنی

## خواص پوست لیموترش

از مزایای مفید پوست لیمو مـی‌تـوان بـه پـاکسازی کبـد، تقویـت مـویرگ‌هـا، درمـان عفونـت گـوش، گـردش خـون مـنظم، کـاهش انقباضـات ماهیچـه‌ای، اشـاره کـرد .پوسـت لیمـو بـه بهبـودی سلامت اسـتخوان کمـک می‌کنـد، زیـرا سرشـار از کلسـیم و ویتـامین C اسـت در جلـوگیری و درمـان سرطان نیـز مـوثر مـی باشـد . در بهبود سلامت قلب مفید است. پوست لیمـو باعـث حفـظ فشـارخون در سـطح مناسـب مـی‌شـود. بـدین ترتیـب پوست لیمو از بیماری‌هـای قلبـی، حملـه قلبـی و ابـتلا بـه دیابـت جلـوگیری مـی‌کنـد.همچنـین بـرای بهداشـت دهان و دندان بسیار مفید است.

ارسالی: نجیم

## اماکن تاریخی غزنی

ولایت غزنـی ۱۵۰۰سـال قبـل از اسـلام تـاریخ دارد مناطق تـاریخی زیـاد و آبـده هـای باسـتانی فـراوان در غزنی موجود است؛ اما اکثـر ایـن منـاطق تـاریخی و آبـدات در اثـر بـی تـوجهی از بـین رفتـه و یـاهم در حالـت نابودی قرار دارد.

مهمترین منطقـهٔ تـاریخی غزنـی شـهر کهنـهٔ غزنـی و یـا هـم بالاحصـار اسـت کـه قـبلاً مقـر سـلطنت سـلطان محمود غزنوی در آن قرار داشـت. ایـن قلعـه حـدود ۴۰ بـرج دارد و گفتـه میشـود کـه صـدها سـال قبـل یـک سرپوش بازار طلا نیز درانیجا وجود داشـت و یـک مقبـره تـاریخی دارد کـه بـه اثـر جنـگ هـا تخریـب گردیـده و آثـار تـاریخی و طـلای ایـن بـازار زیرخـاک شـده اسـت در ولایـت غزنـی جمعـاَ حـدود۳۰۰ آبـده و مقبـره تـاریخی موجـود میباشـد کـه از جملـه ۳۰ منطقـه آن در جریـا ن ده سـال گذشـته اعمـار گردیـده در غزنـی؛ مزار سـنایی، شـمس بابـا، حسـن غزنوی،سـلطان محمـود غزنـوی، خواجـه بلغـار، خواجـه علـی، سـلطان شـهاب الـدین ،زیـارت ملانـوح بابـا، دو منـار دوران سـلطان محمـود غزنـوی و صـد هـا آبـده تـاریخی منـاطق و مقبـره هـای مشابه آن وجود دارد . موزیم غزنـی از مـوزیم هـای غنـی کشـور بشـمار میـرود . امـا در ایـن اواخـر بعضـی از آثار آن کـه بخـاطر حفـظ ونگهـداری بـه کابـل فرسـتاده شـده بـود ویـا از منـاطق دیگـر دریافـت شـده بـود دوباره بـه غزنـی انتقـال داده شـده اسـت تنهـا یـک مـوزیم آن در چـو کـات وزارت اطلاعـات وفرهنـگ موجـود میباشد، که قبل از اسلام در آن آثـار تـاریخی نگهـداری مـی شـد. ایـن مـوزیم حـال هـم وجـود دارد، امـا آثـار آن تا حال به نمایش گذاشته نشده است واز چند سال به این طرف دروازه هایش بسته است.

ارسالی: فرملی

## پاڅه!

د شپې دریمـه برخـه رارسـیدلې ، هـرې خواتـه چوپـه چوپتیـا خـوره ده ، خلـک پـه درانـه خـوب ویـده دي ، د اسمان پـه تـور خلیـدونکي سـتوري شـغلې کـوي ، شـپه ورو ورو د سـحر پـه طـرف ور روانـه ده ، نیـږدې ده ، چې خپل ځای رڼا ته پریږدي.

پاڅه !

خپل محبوب خـدای ج تـه د سـوال او زاریـو ، عبـادت او نیـږدې کیـدو بهترینـې شـیبې دي ، هغـه شـیبې چـې د زړه آه او دعـا پکـې عـرش تـه رسـیږي ، هغـه شـیبې چـې د اسلام سـتر لاربښـود یـې د بهترینـوالي ذکـر کـړی دی.

پاڅه!

د څراغ تتې رڼا تـه لـه خپـل محبـوب خـدای ج سـره خپلـه مینـه پـه ډاګـه کـړه ، خپـل تنـدی د هغـه محبـوب خـدای ج د رضـایت پـه خـاطر پـه خـړو خـاورو ولګـوه ، پـه ژړا ژړا تـرې د مغفـرت غوښـتنه وکـړه. هلـه نـو ؛ همـدا د غـوره عبـادت او خـدای ج تـه د نیـږدې کیـدوبهترین وخـت دی ، هغـه وخـت چـې روح پکـې سـکون مـومي او خدای ج ته پکې سړی نیږدې کیږي.

رالیږونکې:صمد

## شمع

لکــه شــمع کــه خــان وســوځې پــه اور تــه
نــو بــه هلــه کــړې رڼــا مینــه او کــور تــه
کــه فرهــاد غونــدې دې غورنــه ســوری نــه کــړه
د شـیرین وطـن پـه عشـق کـې یـې نـاموړ تـه
پـه خولـو یـې د تنـدي کـه آبیـاري کـړې
د وطــن د ګلــو بــاغ بــه کــړې سمســور تــه
کــه پــه اور اوبــو کـې تـېـغ غونـدې غوټـه شـې
نــو پــه ســر بــه د دښــمن شـې هلــه ســور تــه
لکــه ونــه کــه بــار نــه کــړې پــه ســر پیټــی
وبــه نــه شــیندې خــوږه مېــوه هــر لــور تــه
کــه د بــاد پــه شــان دې خــان کــړ ســرګردانه
نــو بــه وچــې کــړې خــولې لــه مــخ د ورور تــه
د پنبــې غونــدې خــان ورکــړه حلاجــي تــه
چې کـړې پـټ د خپـل وطـن لـوڅ او سـر تـور تـه

رالیږونکی: باسط

## خدمت د وطن

که د صورت وینې مې توی شي په خدمت د وطن
دا به دنیا کې یـو لـوړ نـوم او سعـادت وي زمـا
قربان قربان مې دا ځواني شه زرګـرت لـه وطـن
خـو د وطـن د استقلال دې تر قیامت وي زما
خدایه نصیب مې کړې ښه ښکلی شهادت د وطن
خپلو نیکو ته چې په ګور کې مســرت وي زمـا
زه ملنګ جان به هله سیال شمه له سیـاله سـره
زمـا ځـواني ډول کــوي لـه پښتنــوالـه ســره
مبـارکي بـه خپـل پـردي تـه پـه بسـتر ورکوم
زه پـه پښتنـــــو او پښتنوالي بانـدې سـر ورکوم

رالیږونکی: حسیبا

Weekly Marif Newspaper

Established 2002, Issue No 243, Month – November 2018

Ministry of Education Cultural and Social Issue

## افغانستان له نړیوالې پوهنیزې حکومتولۍ اغېزناکه ګټه اخلي

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد میرویس بلخي د امریکا غږ آشنا




ټلویزیون سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل، چې وزارت یې له نړیوالې پوهنیزې حکومتولۍ په اغېزناک ډول ګټه اخلي.

نوموړی وایي، چې د پوهنې په برخه کې د پراخو اصلاحاتو د راوستو لپاره د نړیوالو تجربو کارولو ته اړتیا لري او په دې اړه یې کار هم پیل کړی دی.

هغه زیاته کړه، چې د تشکیل سمون، د نوي نصاب رامنځته کول او د تدریس په برخه کې له نویو لارو چارو کار اخیستنه هغه څه دي، چې دا مهاَل یې نړیواَل په پوهنه کې کاروي او افغانستان هم پیل کړي دي.

د پوهنې وزارت سرپرست، له معارفه د ملاتړ لسیزه ددې تجربو د عملي کولو او د پوهنې د حالت د ښه کېدو یوه ښه بېلګه وبلله او ټینګار یې وکړ، چې باید په دې اړه په هر اړخیز ډول هڅې وشي.

## فعالیت ۱۳۰ مکتب خصوصی مورد ارزیابی قرار گرفت

در جلسه کمیسون حل منازعات مکاتب خصوصی، کار وفعالیت ۱۳۰ باب مکتب خصوصی مورد بررسی و ارزیابی همه جانبه قرارگرفت.

در این جلسه فعالیت های تدریسی واداری ۱۳۰باب مکتب خصوصی در مطابقت به مقرره مکتب های خصوصی وسایر لوایح وزارت معارف مورد ارزیابی قرار گرفت که درنتیجه خدمات و کارکردهای ۳۸ مکتب مطابق به طرزالعمل های نافذه این وزارت بوده واز آنها تحسین صورت گرفت.

هکذا دراین مجلس به تعداد ۳۶ باب مکتب ونهاد تعلیمی وتربیتی خصوصی نسبت کم کاری در تطبیق لوایح موجوده وهم موجودیت مشکلات درعرضه خدمات لازمه برای شاگردان درمطابقت به ماده ۴۱ مقرره موسسات تعلیمی خصوصی مورد تأدیب



قرارگرفته که موضوع رسماً برایشان اخبارگردید.

در این جلسه ضمن حضورعبدالباسط عطایی آمر ارتباط اسناد، ریاست دفتر، نماینده نظارت تعلیمی وزارت معارف، مسؤلان ریاست تعلیمات خصوصی، نمایندگان اتحادیه های نهادهای تعلیمی وتربیتی خصوصی ومسؤلان شماری از مکاتب خصوصی ونماینده وزارت کاروامور اجتماعی وشهدا ومعلولین نیز اشتراک داشتند.

## د پوهنې وزارت سرپرست د امریکا د بهرنیو چارو له معینې سره وکتل

د افغانستان د پوهنې وزارت سرپرست ډاکټر محمد میرویس بلخي امریکا ته د خپل سفر په اوږدوکې ددې هیواد د بهرنیو چارو وزارت له مرستیالې انې فورمېژر سره وکتل. پوهنې وزارت سرپرست په دې کتنه کې په افغانستان کې د پوهنې د برخې ستونزو او لاسته راوړنو ته اشاره وکړه او د هغو مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه، چې تر دې مهاله له پوهنې وزارت سره شوې دي.

د وزارت سرپرست ډاډ ورکړ، چې یادې مرستې به په اغېزناک ډول مصرفېږي او د نړیوالو په تېره بیا امریکا د خلکو باور به نه زیانمنېږي.د پوهنې وزارت سرپرست په ناسته کې د کوربه چارواکو هغه اندېښنې هم ځواب کړې، چې په افغانستان کې د مرستو د مصرف په اړه موجودې وې. ښاغلي بلخي ټینګار وکړ، چې د مرستو هر مبلغ په خپل ځای د افغانستان له ودې سره مرسته کوي، چې دا د پوهنې وزارت لوی هدف دی.په ځواب کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې د پوهنې وزارت له سرپرست سره د شوي مجلس په اړه خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، چې په دې کتنې سره یې د وضعیت د تحلیل په اړه سوچ بېخي بدل شو.نوموړې وویل، چې نه یوازې له افغانستان سره به مرستو ته دوام ورکوي، بلکې په نړیواله کچه به د افغان پوهنې لپاره د کمپاین په برخه کې هم مرسته کوي.

دوی په دې اړه له پوهنې سره د مطبوعاتي او تبلیغاتي چارو د پرمختګ په برخه کې هم ژمنه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې د پوهنې وزارت د سرپرست لخوا وړاندیز شوې طرحې ورته جالبې او د منلو دي.پوهنې وزارت سرپرست هم له افغان پوهنیز سیستم سره د امریکا او نورو مرستندویه هیوادونو د لاسنیوي مننه وکړه او هیله یې وښوده، چې پوهنې وزارت به کولای شي چې په دې مرستوسره به د افغانستان ټولو د ښوونځیو پاتې ماشومانو ته تعلیمي خدمات ورسوي .

## مدال های عالی دولتی به چهار تن از معلمین مکاتب تفویض گردید

دکتر محمد میرویس بلخی سرپرست وزارت معارف مدال های عالی دولتی ملالی و میربچه خان را برای چهار تن از معلمین ولایت های کابل، کنر و کاپیسا تفویض نمود بر اساس پیشنهاد



وزارت معارف به مقام ریاست جمهوری اسلامی افغانستان در خصوص تقدیر از تلاش های خستگی ناپذیر معلمین افغانستان، بعد از طی مراحل به تعداد 17 معلم در تمام بر اساس فرمان رئیس جمهوری اسلامی افغانستان واجد مدال های عالی دولتی ملالی و میربچه خان شدند. در مراسمی که به همین مناسبت در وزارت معارف برگزار شده بود دکتر محمد میرویس بلخی گفت آینده افغانستان در گرو معلمان افغانستان است، وزارت معارف به دنبال طرح افزایش امکانات و امتیازات معلمان بوده تا بتوانیم با مرفوع ساختن نیاز های ، آینده افغانستان توسعه یافته را رقم بزنیم. بانو کریمه هدایت و بانو عارفه از ولایت های کابل و کاپیسا حایز مدال دولتی" ملالی "و استاد جواد و سید امیر گل از ولایت کابل و کنر حایز مدال" میر بچه خان "شدند . دکتر بلخی پس از تفویض مدال های مذکور، طی سخنانی از زحمات و تلاش های شبانه روزی، امانتداری و صداقت آنان در انجام وظایف محوله ستایش نموده، گفت :مسئله مکافات و مجازات جدی گرفته می شود و افرادی که در وظایف شان از خود شایستگی نشان می دهند، مورد قدردانی و ستایش قرار خواهند گرفت. معلمین تقدیر شده از حمایت های بی دریغ رهبری وزارت معارف در قسمت انگیزه دهی و توجه به نیاز های معلمین در یک سال گذشته اظهار قدر دانی نموده و تعهد کردند که برای معارف نوین کار های بیش از این انجام دهند .قابل ذکر است که مدال های 13 معلم دیگر که حایز این مدال ها شدند از طریق ریاست های معارف ولایات مربوطه برای شان تفویض میگردد.

## پوهنې وزارت سرپرست د USAID له مشرې سره وکتل

د پوهنې وزارت سرپرست ډاکتر محمد میرویس بلخي، چې واشنګټن ته په یوه رسمي سفر تللی و، د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې یې د په افغانستان کې د USAID د برخې له مشرې کري فریمن سره وکتل.

ډاکتر محمد میرویس بلخي د هغو مرستو مننه وکړه، چې یادې اداري د افغانستان له پوهنې سره کړې دي او ددې مرستو د دوام غوښتونکی شو. پوهنې وزارت سرپرست ټینګار وکړ، چې ددې مرستو پر مټ د هېواد د پوهنې په برخه کې د پخوا په پرتله مثبت بدلون راغلی.

نوموړي زیاته کړه: د مرستندویه ادارو او هیوادونو لخوا شوې مرستې به په پوره شفافیت او ښه ډول ولګول شي او ترځنګ یې ډاډ ورکړ، چې افغان ولس به ددې مرستو مننـدوی وي. د افغانستان لپاره د امریکا د پراختیایي اداري مشرې وویل، چې له پوهنې وزارت سره به خپلې هڅې غځوي او ژمنه یې وکړه، چې هیواد به یې د افغانانو لاسنیوی پرې نږدي. نوموړې په ورته وخت کې غوښتنه وکړه، چې یادې مرستې به په ښه ډول عملي او وروستی تاثیر به یې پر افغان ماشومانو او وګړو ولیدل شي .

د امریکا پراختیایي اداره یوه له هغو ادارو څخه ده، چې هرکال له پوهنې وزارت سره، په بیلابیلو برخو کې مرستې کوي.

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد اشرف رسولي
کمپوز و ډیزاین بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د اړیکو او عامه پوهاوي ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت